# درې ګوني اصول

د

امام محمد بن عبدالوهاب رحمه الله

ليکنه

# درې اصول

## د امام محمد بن عبدالوهاب رحمه الله ليکنه

پوه شه ـ الله تعالی دې وبښه ـ چې مونږ بايد څلور مسئلې زده کړو:

**لمړی:** علم يعنې دالله تعالی پيژندنه، او د هغه د نبي پيژندنه، او د اسلام د دين پيژندنه په دلايلو سره.

**دويم:** په علم عمل کول.

**دريم:** علم ته دعوت کول.

**څلورم:** په دې لاره کې په کړاونو صبر کول.

**ددې دليل داده چې الله تعالی وايي بسم الله الرحمن الرحيم:** وَالْعَصْرِ ﴿١﴾إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ﴿٢﴾إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝ سورة العصر.

# درې ګوني اصول

امام شافعي رحمه الله ويلي و: که الله تعالی له دې سورته پرته هيڅ بل دليل نه وای نازل کړی، نو همدا سورت د دليل لپاره پوره و.

او امام بخاري رحمه الله تعالی ويلي دي : د علم باب له قول او عمل څخه مخکې ده، او **دليل يې د الله تعالی دا قول ده**:( فَاعْلَمْ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ) محمد١٩.

نو پيل په علم او پوهه شوی مخکې له قول او عمل څخه.

نو ګرانه وروره پوه شه چې په هر مسلمان او مسلمانه باندې واجب ده چې دا لاندې درې مسئلې زده کړي او عمل ورباندې وکړي:

**لمړۍ:** الله تعالی مونږ پيدا کړي يو او روزي يې راکړې ده، او بيا يې هسې نه يو پريښي، بلکې مونږ ته يې رسول را ليږلی، نو که چا يې اطاعت وکړ جنت به داخل شي او که چا يې سرغړونه وکړه دوزخ ته به داخل شي، **دليل يې د الله تعالی قول ده چې وايي:** (إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولاً

شَاهِداً عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَى فِرْعَوْنَ رَسُولاً (١٥) فَعَصَى فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ فَأَخَذْنَاهُ أَخْذاً وَبِيلاً ) المزمل: ١٥-١٦

**دويم:** الله په دې ناخوښه ده چې څوک ورسره شريک ونيسي، که هغه شريک يې ملايکه وي که رسول. **ددې دليل د الله تعالی قول ده چې ويلي يې دي:** (وَ أَنَّ المَسَاجِدَ للهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللهِ أَحَداً) الجن ١٨.

**دريم:** هغه څوک چې د رسول اطاعت وکړي، او د الله تعالی توحيد وکړي، نو هغه ته نه ده روا چې له هغه چا سره ملګرتيا وکړي چې هغه د الله تعالی او دهغه د رسول دښمن وي، که يې ډير خپل هم وي، او **دليل يې د الله تعالی دا قول ده چې وايي:** (لاَ تَجِدُ قَوْماً يُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللهَ وَ رَسولَهُ وَلَوْ كَانُوا أباءهُم أَو أَبْنَاءهُم أَو إِخْوانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمْ الايمَانَ وَ أَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللهُ عَنْهُم وَ رَضُوا عَنْهُ أُولَئِكَ حِزبُ اللهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللهِ هُمُ المُفْلِحُونَ) المجادلة ٢٢.

# درې ګوني اصول

پوه شه ـ الله تعالى دې تا خپلې لارې ته هدايت کړی ـ **چې** هغه حنفيت چې د ابراهيم عليه السلام ملت ده، داده چې د الله تعالى عبادت وکړې، يوازې دهغه، او په اخلاص سره، چې په دې سره الله تعالى ټولو ته امر کړی، او د همدې کار لپاره يې پيدا کړي دي، **لکه چې الله تعالى داسې ويلي دي**: (وَمَا خَلَقتُ الجِنَّ وَالإِنسَ إِلّا لِيَعْبُدونِ) الذاريات ۵۶. او د يَعْبدُونِ معنا يُوَحِّدونِ.

**تر ټولو غټ امر چې الله تعالى مونږ ورباندې مکلف کړي يو** هغه توحيد ده، چې توحيد د الله تعالى يواځې ګڼل دي، په عبادت کې، او تر ټولو لويه ناروا چې الله تعالى مونږ ورڅخه منع کړي يو ، هغه شرک ده، چې شرک له الله تعالى سره د بل چا شريکول دي، **ددې دليل د الله تعالى دا قول ده**: (وَعْبُدُوا اللهَ وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيئاً) النساء ۳۶

نو که چا در ته وويل چې هغه درې اصول کوم دي چې انسان ته يې پيژندل لازمي او فرض دي؟

# درې ګونې اصول

نو ته به ورته وایې: بنده باید خپل رب وپیژني، خپل دین وپیژني، او خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم وپیژني.

## لمړی اصل

**نو که چا درته وویل** چې: رب دې څوک ده؟

**نو ورته ووایه** چې رب مې هغه څوک ده چې زه یې پیدا کړی یمه، او ټول عالم یې په خپل نعمت سره پیدا کړی ده، هغه زما معبود ده، او له هغه پرته بل معبود نه لرم، دلیل یې دا قول د الله تعالی ده چې وایي: اَلحَمْدُ لله ربِّ الْعَالَمِين) الفاتحه ۲.

او له الله پرته نور هرڅه عالَم ده، چې زه هم له دې عالَم څخه یو یم.

**او که بیا یې درته وویل** چې رب دې په څه شي وپیژانده؟

**نو ورته ووایه** چې له نښو او مخلوقاتو څخه مې وپیژانده، او له نښو څخه یې شپه او ورځ دي، لمر او

## درېيم ګوني اصول

سپوږمۍ دي، او له مخلوقاتو څخه يې اوه اسمانونه، اوه ځمکې او په هغو کې چې څه شی موجود دي ټول يې مخلوقات دي. او **دليل يې د الله تعالی دا قول ده چې وايي:** (وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُون)فصلت ﴿۳۷﴾ **او همدارنګه الله تعالی وايي:** ﴿إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثاً وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ﴾ الاعراف ۵۴.

**او رب:** د عبادت وړ ده، او **دليل يې دا قول د الله تعالی ده:** (يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ) (الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ) البقرة ۲۱-۲۲.

ابن كثير صاحب وايي چې د دغو شيانو خالق د عبادت مستحق ده.

## درېيم ګوني اصول

او د عبادت ډولونه چې په هغه باندې الله تعالى امر کړی، لکه اسلام، ايمان، نيکي کول، او له الله تعالى څخه غوښتنه يا دعاء کول، له الله تعالى څخه ويره کول، د هغه څخه هيله درلودل، په الله تعالى توکل کول، او له الله سره مينه کول، له هغه څخه ويره کول، هغه ته خشوع او عاجزي کول، له هغه څخه مرسته غوښتل، الله تعالى خپل وکيل ټاکل، له هغه مرسته غوښتل، هغه ته پناه وروړل، ذبح ورته کول، نذر ورته کول، او نور داسې عبادات چې الله تعالى ورباندې امر کړی ټول د الله تعالى لپاره کيږي.

**او دليل يې دالله تعالى قول ده:** (وَ أَنَّ المَسَاجِدَ للهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللهِ أَحَداً) الجن ١٨.

نو که چا د بل شي عبادت وکړ نو هغه مشرک او کافر ده.

**او دليل يې د الله تعالى قول ده:** (وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِنْدَ رَبِّهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ) المؤمنون ١١٧

## درې ګوني اصول

او په حديث شريف کې راغلي: ( الدعاء مُخُ العبادة). دعاء د عبادت ماغزه دي.

**او دليل قول د الله تعالى ده:** (وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِين) غافر ٦٠.

**او د ويرې دليل دا قول د الله تعالى ده:** (فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ) آل عمران ١٧٥.

**الله تعالى نه د هيلې لرلو دليل:** (فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحاً وَلا يُشْرِكْ بِعِبَادَه رَبِّهِ أَحَدا) الكهف ١١٠.

**د توکل دليل،** الله تعالى وايي: (وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُواْ إِن كُنتُمْ مُؤْمِنِينَ) المائدة ٢٣.**او همدارنګه دا قول د الله تعالى:** (وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهُ) الطلاق ٣.

## درې ګوني اصول

**د رغبت، رهبت او خشوع دليل،** د الله تعالى قول ده: (إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَباً وَ رَهَباً وَكَانُوا خَاشِعِينَ) الأنبياء ٩٠.

**د ويرې دليل،** الله تعالى وايي: (فَلاَ تَخْشَوهُمْ وَاخْشَونِي) البقرة ١٥٠.

**الله تعالى ته د سپارلو دليل،** الله تعالى وايي: (وَ أَنِيبُوا إِلَى رَبِكُمْ وَ أَسْلِمُوا لَهُ) الزمر ٥۴.

**د مرستې دليل،** الله تعالى وايي: (إِيَّاکَ نَعْبُدُ وَ إِيَّاکَ نَسْتَعِينُ) الفاتحه ١. او همدارنګه په حديث شريف کې راغلي، (إذا استعنت فاستعن بالله).

**الله تعالى ته د پناه ور وړلو دليل،** قوله تعالى: (قُلْ أَعَوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ) الناس ١.

**له الله تعالى د مرستې غوښتلو دليل،** إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُم فَاسْتَجَابَ لَكُمْ) الأنفال ٩.

## درې ګوني اصول

**الله تعالی ته د ذبحې دلیل،** الله تعالی وایي: ( قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَ نُسُكِي وَ مَحْيایَ وَ مَمَاتِي لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لاَ شَرِيکَ لَهُ وَبِذَالِکَ أُمِرْتُ وَ أَنَا أَوَّلُ المُسْلِمِينَ) الأنعام ۱۶۳.

**او په حدیث کې راغلي:** (لعن الله من ذبح لغیر الله).

**د نذر دلیل،** الله تعالی وایي: (يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَ يَخَافُونَ يَوْماً كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيراً) الإنسان ۷.

### دویم اصل

**د اسلام د دین پیژندل په دلایلو سره**

اسلام، الله تعالی ته په توحید سره تسلیمیدل ، الله ته په طاعت سره غاړه کیښودل، او له شرک او له اهل شرک څخه برائت ته ویل کیږي.

**اسلام درې مرتبې لري:** اسلام، ایمان او احسان یعنې نیکي چې هره مرتبه بیا ځانته ارکان لري.

# درې ګوني اصول

**نو د اسلام ارکان پنځه دي:** لمړی د شهادت کلمه ده، لاَ إِلَهَ إلا اللهُ وَ أنَّ محمَّداً رسُول اللهِ، دویم لمونځ کول دي، دریم د زکات ورکول، څلورم روژه نیول، او پنځم د بیت الله شریفې حج کول دي.

**د شهادت د کلمې دلیل،** الله تعالی وایي: (شَهِدَ اللهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إلاَ هُوَ وَالمَلاَئِکةُ وَأُلوالعِلمِ قَائِماً بِالقِسْطِ لاَ إِلَهَ إِلَا هُوَ الْعَزِيزُالحَکِيمُ) آل عمران ١٨.

**معنا یې داده** چې بل په حقه معبود نشته مګر یو الله ده، (لا إِلهَ) نفی کوونکې ددې ده چې څوک د بل چا عبادت وکړي، (إلا اللهُ) بیا ددې ثابتوونکی ده چې الله تعالی ته باید په توحید سره عبادت وشي، او شریک ورسره ونه نیول شي، لکه څنګه چې په خپله پاچاهي کې هم ورسره شریک نشته.

**او ددې آیت تفسیر په بل آیت کې راغلی** چې الله تعالی وایي: (وَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهيمُ لأَبِيهِ وَقَوْمِهِ إِنَّنِي بَرَاءٌ مِمَّا

تَعْبُدُونَ۝ إِلا الَّذِي فَطَرَنِيْ فَانّه سَيَهْدِينِ۝ وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً فِي عَقَبِهِ لَعَلَهُمْ يَرْجِعُونَ) الزخرف ٢٦-٢٧.

**او همدارنګه دا قول د الله تعالى:** ( قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ) آل عمران:٦٤

**او ددې چې أن محمدا رسول الله دليل** قول د الله تعالى ده: (لَقَدْ جاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ ما عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُفٌ رَحِيمٌ) التوبة ١٢٨.

**او ددې معنا چې أن محمدا رسول الله** بايد د نبي صلى الله عليه وسلم اطاعت وشي په هغه شيانو چې امر يې پرې کړی، او هغه څه چې يې راوړي بايد تصديق يې وشي، او هغه څه چې يې منع کړي بايد اجتناب ترې وشي، او د الله تعالى عبادت ونشي مګر په هغه ډول چې نبي صلى الله عليه وسلم رابنودلي.

## درې ګوني اصول

**او د زکات، او لمانځه دليل، او د توحيد تفسير داسې ده:**
الله تعالی وايي: (وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاء وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ) البينة ٥.

**د روژې دليل** الله تعالی وايي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ) البقرة ١٨٣.

**د حج دليل،** الله تعالی وايي:
(وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ) آل عمران:٩٧.

**دويمه مرتبه:**

**ايمان** ايمان څو اويا څانګې لري، چې تر ټولو لوړه څانګه يې (لا اله الا الله) ده، او ټيټه څانګه يې له لارې څخه د هغې ډبرې چې خلکو ته ازار رسوي دهغې لري

## درې ګوني اصول

کول دي، او همدارنګه شرم او حياء د ايمان يوه څانګه ده.

**د ايمان ارکان شپږ دي:** ايمان ده په الله تعالی، د الله تعالی په ملائکو، د الله تعالی په کتابونو، د آخرت په ورځ، او د قدر په خير او شر.

**او په دغو شپږو ارکانو دليل** د الله تعالی قول ده چې ويلي يې دي: (لَيْسَ البِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ المَشْرِقِ وَالمَغرِبِ وَلَكِنَّ البِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ وَالمَلآئِكَةِ وَالكِتَابِ وَالنَّبِيينَ) البقرة ١٧٧.

**او د قدر دليل** د الله تبارک وتعالی دا قول ده چې فرمايلی يې دي: (إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ) القمر ۴۹.

**دريمه مرتبه:**

**احسان يا نيکي په عبادت کې** دا خپله يو رکن ده چې (أن تعبد الله كأنک تراه، فان لم تكن تراه فانه يراک). ژباړه: د

## درېيم اصول

الله تعالی داسې عبادت کوه لکه ته چې الله تعالی وینې، خو که ته یې وینې هم نه، نو هغه خو تا ویني.

**او دلیل یې** دا قول د الله تعالی ده چې وایي: (إِنَّ اللّهَ مَعَ الَّذِيْنَ تَّقُواْ وَالَّذِينَ هُم مُحْسِنُونَ) النحل:۱۲۸.

**او دا قول د الله تعالی** (وَتوَكَّلْ عَلَى العَزِيزِ الرَّحِيمِ« الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ« وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ« إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ) الشعراء:۲۲۰-۲۱۷.

**او دا قول د الله تعالی:** (وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُو مِنْهُ مِن قُرآنٍ وَلاَ تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ) یونس:۶۱.

**او په حدیثو کې یې دلیل** د جبریل مشهور حدیث ده له عمر بن الخطاب رضی الله عنه څخه روایت ده، چې ویلي یې دي: (بینما نحن جلوس عند النَّبي صلی الله علیه وسلم إذ طلع علینا رجلٌ شدید بیاض الثیاب، شدید سواد الشَّعر، لا یُری علیه أثر السَّفر، ولا یعرفه منَّا احدٌ، فجلس

إلى النَّبي صلى الله عليه وسلم، فأسند ركبتيه إلى ركبتيه، ووضع كفَّيه على فخذيه، وقال: يا محمَّد أخبرني عن الاسلام. قال: (أن تشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدًا رسول الله، وتقيم الصَّلاة وتؤتي الزّكاة، و تصوم رمضان، وتحج البيت إن استطعتَ إليه سبيلا). قال: صدقت. فعجبنا له يسأه ويُصدِّقه. قال: أخبرني عن الايمان، قال: ( أن تؤمن بالله و ملائكته، وكتبه، و روسُله، واليوم الآخر، وبالقدر خيرهِ وشرهِ). قال: أخبرني عن الاحسان. قال: (أن تعبدَاللهَ كأنک تراهُ فان لم تكن تراهُ فانه يراکَ). قال أخبرني عن الساعة. قال( ما المسؤول عنها بأعلم من السائل). قال: أخبرني عن أماراتها. قال: (أن تلد الأَمَة ربَّتها، وأن ترى الحفاة العُراةَ العالة رِعاءَ الشَّاء يتطاولون في البُنيان) قال: فمضى. فلبثنا مليَّا. فقال: (يا عمرُ أتدرون مَنِ السَّائل) قلنا: الله ورسوله أعلم. قال: (هذا جبريل أتاكم يُعلِّمَكم أمرَ دينكم).

ژباړه: په داسې حال کې چې مونږ له نبي صلى الله عليه وسلم سره ناست و، په مونږ يو راغى چې ډير سپين کالى يې اغوستي و، ويښتان يې ډير تور و، او د سفر نښې نه

## درېيم ګونې اصول

وربانديې مالوميدې، او مونږ يوه هم دا سړى نه پيژانده، نو نبي صلى الله عليه وسلم ته ورکيناست، او خپل د زنګنو سترګې يې د نبي صلى الله عليه وسلم د زنګنو له سترګو سره وجنګولې، او خپل لاسونه يې په خپلو ورنو کېښودل، او ويې ويل: اې محمده، اسلام څه ته وايي؟ هغه ورته وويل: (چې دا کلمه ووايې لا إله إلا الله و أن محمد رسول الله، او لمونځ وکړې، او زکات ورکړې، او روژه ونيسې، او که دې وس و، نو حج هم وکړې) سړي وويل: ريښتيا دې وويل، نو مونږ ورته حيران شوو چې هم پوښتنه کوي اوهم بيا تصديق کوي، بيا يې وويل ايمان څه ته وايي؟ نبي صلى الله عليه وسلم ورته وويل: (چې په الله ايمان راوړې، او په ملايکو، کتابونو، رسولانو، د آخرت په ورځې، او دا چې قدر د خير او شر د الله تعالى له طرفه ده په دې ايمان راوړې).

سړي بيا وويل: احسان څه ته وايي؟ ورته يې وويل: (چې د الله تعالى عبادت وکړې لکه چې ته يې وينې که يې ته وينې هم نه خو هغه خو تا ويني). بيا سړي وويل چې له

## درېيم ګوني اصول

قيامت نه مې خبر کړه؟ نبي صلی الله عليه وسلم ورته وويل: (له سوال کړل شوي (نبي صلی الله عليه وسلم) څخه سوال کوونکی ښه پوهيږي). بيا سړي وويل: علامې يې راته ووايه؟ ورته يې وويل: ( چې مينځه خپله خاونده وزيږوي، او چې ووينې هغه پښې لوڅي، ځان لوڅي، د کورنی پيټي، د پسونو څروونکي، چې په ښو کورونو کې اوسيږي). عمر رضی الله عنه وايي بيا سړی ولاړ، او مونږ يو څه ځنډ غلي کيناستو، نو نبي صلی الله عليه وسلم وويل: ( اې عمره ايا تاسو پوهيږی چې پوښتني کوونکی څوک و؟) مونږ وويل الله او د هغه رسول ښه پوهيږي. نو نبي صلی الله عليه وسلم وويل: ( دا جبريل و، راغلی و، چې تاسو ته مو د دين چارې در زده کړي).

# درې ګوني اصول

## دريم اصل

## دخپل پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم پيژندنه:

هغه محمد د عبدالله زوى د عبد المطلب زوى د هاشم زوى او هاشم له قريشو څخه و، او قريش له عربو څخه دي، او عرب د اسماعيل بن ابراهيم الخليل عليهما السلام له اولادې څخه دي، محمد صلى الله عليه وسلم دري شپيته كاله عمر درلود، چې څلويښت كاله يې له نبوت څخه مخكې او درويشت كاله نبي او رسول و، د (إقرأْ) په كلمې سره نبي شو، او د (المدَّثِّرُ) په كلمې سره رسول شو، اصلى وطن يې مكه وه، او الله تعالى ددې لپاره را ليږلى و، چې خلك له شركه وويروي او خلك يې توحيد ته رابلل.

**او دليل يې** د الله تعالى دا قول ده: (يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ﴿١﴾ قُمْ فَأَنذِرْ ﴿٢﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴿٣﴾ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿٤﴾ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿٥﴾ وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ ﴿٦﴾ وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴿٧﴾) المدثر ٧-١.

## برې ګوني اصول

او د (قم فَأنذر) معنی ویرول دي له شرک څخه، او توحید ته رابلل دي.

وَرَبَّکَ فَکَبِّرْ: یعنې په توحید سره یې لوی وګڼه.

وَ ثِیابَکَ فَطَهِّرْ: یعنې خپل اعمال له شرک څخه پاک کړه.

وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ: رجز یعنې بتان، او هجر پرېښودلو ته او قطع کولو ته وايي او له بتانو څخه برائت ته ویل کیږي.

په دې کار سره یې لس کاله تیر شول، چې خلک یې توحید ته رابلل، او له لسو کالو وروسته اسمان ته وخوت، او پنځه لمونځونه ورباندې فرض شول، او په مکه کې یې درې کاله لمونځ وکړ او له هغه وروسته ورته مدینې ته په هجرت امر وشو.

او هجرت په دغه امت یوه فریضه ده، چې هجرت د شرک له وطن څخه د اسلام وطن ته تللو ته ویل کیږي، هجرت د قیامت تر ورځې پورې باقي ده.

## درې ګوني اصول

**او دليل يې** قول د الله تعالى ده: ((إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا) إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا) فَأُولَئِكَ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَعْفُوَ عَنْهُمْ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا )) النساء:۹۹-۹۷.

**او دا قول د الله تعالى: (**يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِي وَاسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِ) العنكبوت ۵۶.

**بغوي رحمه الله وايي:** ددې آيت د نازليدو سبب په مكه كې هغه مسلمانان و، چې هجرت يې نه و، كړى، او الله تعالى دوى ته د مؤمنانو خطاب كړى.

**او په حديثو كې د هجرت دليل،** د نبي صلى الله عليه وسلم قول ده (لا تنقطع الهجرة حتى نتقطع التوبة ولا تنقطع التوبة حتى تطلع الشمس من مغربها).

## درېيم ګوني اصول

ژباړه: هجرت ترهغو نه ختمیږي تر څو چې توبه قطع شي، او توبه تر هغو نه قطع کیږي تر څو چې لمر له لویدیځ څخه را وخیژي).

نو کله چې په مدینه کې پاتې شو، د اسلام په نورو شرائعو لکه زکات، روژّه، حج، آذان، جهاد، امر په معروف او نهی له منکره، او نورو شرائعو باندې هم مأمور شو، دې کار لس کاله ونیول، او له هغه وروسته وفات شو صلی الله علیه وسلم، او دین یې باقي ده.

او دا یې دین ده، داسې خیر نشته چې هغه صلی الله علیه وسلم دې خپل امت ته د هغه خیر خواته لارښوونه نه وي کړي، او داسې شر نشته چې هغه مبارک دې له هغه شر څخه خلک نه وي ویرولي، او هغه خیر چې امت ته یې ورښودلی: توحید ده او ټول هغه څه دي چې د الله تعالی خوښیږي او پرې راضي کیږي.

او هغه شر چې مونږ یې ورڅخه منع کړي یو: شرک ده او ټول هغه څه دي چې الله تعالی یې بد ایسوي، او منع

# درېيم ګوښي اصول

يې ورڅخه کړې، الله تعالی د ټولو خلکو لپاره را لیږلی و، او طاعت يې په ټولو مخلوقاتو کۍ پېريان دي که انسانان فرض ده، **او دليل يې،** دا قول د الله تعالی ده: (قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعاً) الأعراف ۱۵۸ آيت. او الله تعالی په ده باندې خپل دين پوره کړی **دليل يې** قول د الله تعالی ده: (الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا ) المائدة ۳ ايت.

**د نبي صلی الله عليه وسلم د مرګ دليل** دا قول د الله تعالی ده: ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَ إِنَّهُمْ مَيِّتُونَ * ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيامَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ﴾ الزمر ۳۱-۳۰.

او خلک چې کله مړه شي بيرته به د قيامت په ورځ را ژوندي کيږي **او دليل يې دا قول د الله تعالی ده:** (مِنْها خَلَقْناكُمْ وَ فِيها نُعِيدُكُمْ وَ مِنْها نُخْرِجُكُمْ تارَةً أُخْرى) طه: ۵۵.

**او دا قول د الله تعالی:** (وَاللَّهُ أَنبَتَكُم مِّنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا« ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا) نوح: ۱۸-۱۷.

## درېيم ګوني اصول

او له ژوند څخه وروسته حساب کوونکي، او جزاء ورکوونکي شته په هغو اعمالو چې بندګانو کړي دي.

**او دليل يې** دا قول د الله تعالی ده: ( وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسَاءُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى) النجم ۳۱.

او هغه څوک چې بيا را ژوندي کيدل دروغ وګڼي کافر کيږي، او **دليل يې دا قول د الله تعالی ده:** (زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنْ لَنْ يُبْعَثُوا ۚ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ) التغابن: ۷.

او الله تعالی ټول رسولان هم زيری کوونکی، او هم ويروونکي را ليږلي، **او دليل يې دا قول د الله تعالی ده:** (رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ ) النساء ۱۶۵.

لمړی پيغمر نوح عليه السلام، او وروستی حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ده، چې خاتم النبيين هم ورته ويل

## دریې ګوني اصول

کیږي،**او په دې باندې دلیل د الله تعالی دا قول ده:** (إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ) النساء ۱۶۳.

او هر امت ته الله تعالی رسول را لیږلی، له نوح علیه السلام څخه نیولی بیا تر محمد صلی الله علیه وسلم پورې، چې دوی بہ یواځی د الله تعالی په عبادت باندې خلکو ته امر کاوو، او خلک یې د طاغوت له عبادت څخه منع کول، **او په دې باندې دلیل دا قول د الله تعالی ده:** (وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ) النحل ۳۶.

او په ټولو بندګانو باندې فرض ده چې په طاغوت باندې کافران شي، او په الله تعالی ایمان راوړي، ابن قیم رحمه الله وایي: (د طاغوت معنا داده چې په ده سره عبد په خپلو حدودو کې له خپل معبود، متبوع یا مطاع څخه ور واوړي).

## درېیم اصول

او طاغوتیان زیات دي، خو سرونه یې پنځه دي: ابلیس لعنه الله علیه، او هغه څوک چې هغه ته عبادت وشي او دی پرې راضي وي، او هغه څوک چې خلک خپل عبادت ته را وبلي، او هغه څوک چې د علم غیبو څخه په یو شي د پوهیدلو دعوه وکړي، او هغه څوک چې په هغه شي فیصله وکړي چې الله تعالی نه دي نازل کړي.

**او دلیل یې** دا قول د الله تعالی ده: (لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ لاَ انفِصَامَ لَهَا وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ) البقرة ۲۵۶.

او همدا د (لا إله إلا الله) معنا ده، او په حدیث شریف کې راغلي: (رأس الأمر الاسلام، وعموده الصلاة، و ذروة سنامه الجهاد في سبيل الله). ژباړه: د کار سر اسلام ده، او ستنه یې لمونځ ده، او د سر څوکه یې د الله تعالی په لاره کې جهاد ده).

**والله اعلم درې ګوني اصول پای ته ورسېدل**